# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

## AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد     بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم     از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com     www.afgazad.com

| مسایل ایدیولوژیک | Ideological |
|---|---|

درویش وردک
۱۲ اپریل ۲۰۱۶

# اوه ویشتم مجلس(له درواغو ډډه کول)

دجمعی په ورځ سهار د ۵۴۵ هجری قمری کال دجمادی الاخریه اوومه ، شیخ عبدالقادر(رضی الله تعالی عنه) په مدرسه کی داسی وفرمایل: هوښیاراوسه اودروغ مه وایه، ته مدعی یی چی له خدایه ویریږی، اما عملا دخدای له مخلوق څخه په ویره کی یی. له انس اوجن اوفرشتوڅخه مه ویریږه، اوله هیڅ ځیرونکی حیوان څخه هم ویره مه لره، اودنیا اوآخرت له عذابه هم اندیښنه مکوه، ولی له هغه چاوویریږه چی په عذاب قادردی. هوښیارسړی دخدای دامرپروړاندی دنورو ل سرزنش څخه باک نلری، اوپرته دخدای له کلام څخه بل کلام نه اوری، ټول خلک یی پروړاندی ناتوانه ،ناروغه اوفقیر دی. داسی انسانان اوهغه عالمان چی عامل پخپل علم وی، اونوریی له علم څخه ګټه پورته کوی، پدی مقام اومرتبه کی دی.! هغه علماء چی دشریعت اودالسلام دحقایقو تابع دی، ددین دطبیبانو په منزل دی، دوی هغه ماهرشکسته بندان دی، ای هغو کسانوچی ددین ارکان اواعضاء مود ماتیدوسره مخ دی، دوی ته رجوع وکړی ترڅوستاسو ماتی ورغوی.

هرڅوک چی درد ورکوی، درمان یی هم ورکوی، هغه دخلکو په مصالحو تربل هرچا ډیرآګاه دی. خدای په خپلو افعالوکی مه متهم کوی، ځکه تاسوددی اتهام سزاوارياست. خپل ځان ته ووایی چی عطا اوبخشش دهغه کس پروړاندی اجراء کیږی، چی هغه هم په طاعت اوانقیاد کی واوسی، اوبی لطفی هم دهغه کس پروړاندی کیږی، چی نافرمانه اوعاصی وی. هرکله که خدای دبنده په برخه کی دخیر اونیکی اراده وفرمایی، لومړی هغه محرم کوی، اوهرکله که یی هغه شاکره اوصابره وموند، راګرځی اوله ککړتیاو څخه یی پاک کوی، اودخپل عنایت مشمول یی ګرځوی.

لویه خدایه، له تاڅخه پرته له آمایښته قرب غواړو، دخپل قضا اوقدرپروړاندی مو دخپل الطافو اوعنایاتومشمول وګرځوه. مونږ داشرارو له شره اودبدکارانو له کیده وباسی، اوهرډول چی غواړی داسی وساته. په دنیا اوآخرت کی ، سلامت اوعفواوغفران مونصیب وګرځوی. له درګاه څخه دېه صالحه اعمالو اواخلاص سره دکړوپه ترسره کولو کی توفیق غواړو.آمین.

یوکس بایزید بسطامی (رحمت الله علیه) خونی ته رادننوت اوښی اوکیڼ لوری ته یی کتل، بایزید(قدس سره) ورته وویل چی څه کوی؟ هغه وویل چی پاک ځای ګورم چی لمونځ پری وکړم، بایزید وویل: لومړی دخپل زړه پاک کړه، بیاچی هرځای غواړی لمونځ وکړه. پرته له مخلیصینو، ریاکاران څوک نه پیژنی، ځکه خپله یی له شرره نجات پیداکړی. ریاء

دقوم پروړاندی دهغی غابنی (کنډو) په څیردی چی په ناچاره باید تری تیرشو. ریاء اوخودخواهی، نفاق دادشیطان غیشی دی چی دخلکو زړونه پری په موخه کوی.

رینټینی بزرګانو اومشایخو سره کښینی، حق ته درسیدو لاره له دوی زده کړی، څکه دوی دالاره طی کړی ده. له دوی څخه دنفس اودهوا اوهوس له شرورو وپوښتی، چی هغه یی څیرلی دی، اوددی لاری ټولی ستونزی اوکړاونه ورمعلوم دی. له هغوی سره مخ شوی، اوپه مجاهدت سره په ټولو ستونزو برلاسی شوی. دشیطان وسوسه تا مغروره نکړی. دنفس دغیشی څخه دتیښتی توان نلری، تاسوبه په نښه کړی، اوله هغی سره مقابله نشی کولای، مګردمعرفت دلاری دلارښوودو سره یوځای په همغزی کی، په مبارزه کی.

جن شیطان پرتاولکه نلګوی، مګردانس شیطان په مرسته اوملتیا، اوانس شیطان هماغه نفس اونابابه دوستان دی. له دی شیاطینوڅخه خدای پاک ته پناه یوسه، څکه هرکله که دزړه له کومی خدای طلب کړی، بریالی به شی. هغه شی چی غواړی له سره به یی ومومی. هرکله که دحق په الطافوسره مأمون شوی، دښځی اواولادواونورو خواته راشه.

یوسف(علیه السلام) چی کله پادشاهی ته ورسید، وروڼو ته یی وویل: (اِئْتُونِی بِاَهْلِکُمْ أَجْمَعِینِ)-«دکورټول غړی ماته راولی».

محروم هغه کس دی چی له خدایه لیری اوددنیا اوآخرت له قربه بی برخی وی. په یوه کتاب کی لیکلی و: (یَاابْنَ آدَمُ اِنْ فُتُکَ فَاتُکَ کُلُّ شَیْئٍ)-« ای دآدم اولاده: که زه درته پاملرنه ونکړم اوخوشی دکړم، هرڅه به له لاسه ورکړی».

څرنګه به خدای عزّوجلّ خپل عنایت له تالیری نکړی، پداسی حال کی چی پرهغی معترض یی،په مومنو بندګانویی اعتراض کوی، په وینا اکردارهغوی څورِوی، اوپه ظاهراوباطن له دوی سره مخالفت کوی؟ پیغمبراکرم(صَلّی اللہُ عَلَیهِ وَسَلّم) فرمایلی: (اِذِیَّةُ الْمؤْ مِنِ اَعْظَمُ عِنْدَاللهِ مِنْ نَقضِ الْکَعْبَةِ وَالْبَیْتِ الْمَعْمُورِ، خَمسَ عَشَرَةَ مَرَّةً)-« دمومن بنده آزارول دخدای پرنزد، پنځه لس ځلی دکعبی او بیت المعمورله ورانولو څخه سخته ده».

واوره، وای پرتا! ای چی تل دفقراو په آزاراوځورپسی یی، پوه شه چی هغوی پرخدای مومن، صالحان اوعارفان دی، اوپرخدای متوکل دی. وای پرتا! ډیرژربه مړشی، اوله خپله کوره – چی په ټول خاطر ورسره تړلی یی- به وایستل شی، اوهغه ددنیا مال چی پری ویاریدلی اومباهات دی کول، لوټ شی، اوهیڅ ګټه به درته ونه رسوی.

«ربنا آتنا فی الدنیا حسنه وفی الاخره حسنه وقنا عذاب النار» آمین.